# دافغانستان اسلامي جمهوریت
## دعدلیې وزارت

# رسمي جریده

- د مالي اجارې قانون .
- د مدنی محاکماتو د اصولو د قانون د یوسلونهه او یایمې مادې تعدیل .
- د.ا.اج دقضائیه قوې د تشکیل او واک د قانون د اووه شپیتمې مادې (۳) فقرې تعدیل.
- د اطفالو سرغړونې ته درسیدگی د قانون دشپږمې مادې تعدیل .
- دملکی خدمتونو د کارکونکو د تقاعد دحقوقو دتنظیم دمقررې دځینو موادو تعدیل او الغاء.
- د آریانا افغان هوایی شرکت د اساسنامې دځینو مواد و تعدیل.
- د ۱۳۹۲ کال په رسمی جریده کې د خپور شوي تقنینی سندونو فهرست .

- قانون اجاره مالی .
- تعدیل ماده یکصدو هفتادو نهم قانون اصول محاکمات مدنی .
- تعدیل فقره (۳) ماده شصت وهفتم قانون تشکیل و صلاحیت قوه قضائیه ج.ا.ا
- تعدیل ماده ششم قانون رسیدگی به تخلفات اطفال
- تعدیل و الغاء برخی از مواد مقرره تنظیم حقوق تقاعدت کارکنان خدمات ملکی .
- تعدیل برخی از مواد اساسنامه د آریانا افغان هوائی شرکت .
- فهرست اسناد تقنینی منتشره جریده رسمی سال ۱۳۹۲

---

دخپرېدو نېټه:د۱۳۹۲ هـ.ش کال دکب دمیاشتې(۲۶)
پرله پسې نمبر: (۱۱۲۸)

تاریخ نشر: (۲۶) حوت سال ۱۳۹۲ هـ . ش
نمبر مسلسل: (۱۱۲۸)

## در این شماره :


۱- قانون اجاره مالی صفحه (۱ــ۳۲).

۲- تعدیل ماده (۱۷۹) قانون اصول محاکمات مدنی صفحه (۳۳_۳۴).

۳- تعدیل فقره (۳) ماده (٦۷) قانون تشکیل وصلاحیت قوه قضائیه ج.ا.ا. صفحه (۳۵)

۴- تعدیل ماده ششم قانون رسیدگی به تخلفات اطفال صفحه (۳٦-۳۷)

۵- تعدیل و الغأ برخی از مواد مقرره تنظیم حقوق تقاعد کارکنان خدمات ملکی صفحه (۳۸-۴۴)

٦- تعدیل برخی از مواد اساسنامه د آریانا افغان هوائی شرکت صفحه (۴۵-۴۸)

۷- فهرست اسناد تقنینی منتشره جریده رسمی سال ۱۳۹۲ صفحه (۴۹-۵۴)



د امتیــــاز خاوند: د عدلیـــي وزارت

مسئول چلوونکی: قانونمل محمدرحیم "دقیق"

۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷

د دفتر تیلفون: ۰۷۵۲۰۵۲۷۰۹

مرستیـــال: نورعلم ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸

مهتمـــم: محمد جان ۰۷۸۳۳۰٦۹۸۲

وب سایت: www.moj.gov.af

قیمت این شماره: (۵۰) افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰) جلد

آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات و ارتباط عامه، چهارراهی پشتونستان، کابل

د مالي اجارې د قانون د توشېح په هکله، د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس

فرمان

ګڼه : (۱۲٦)

نېټه : ۱۳۹۲/۱۱/۱۴

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د (٦۴) مادې د(۱٦) فقرې د حکم له مخې، دمالي اجارې قانون چې د ملي شوري د ۱۳۹۲/۹/٦ نېټې د(۱۰۲) ګڼې پرېکړې پر بنسټ په (۵) فصلونو او (۲۹) مادوکې تصویب شوی دی، توشېح کوم.

**دوه یمه ماده:**

دغه فرمان له قانون او د ملي شوري د مجلسینو د ګډ هیئت له پرېکړې سره یوځای دې په رسمي جریده کې خپور او دخپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

حامد کرزی

دافغانستان داسلامي جمهوریت رئیس

فرمان

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

در مورد توشیح قانون

اجارۀ مالی

شماره : (۱۲٦)

تاریخ : ۱۳۹۲/۱۱/۱۴

**مادۀ اول:**

به تأسی از حکم فقرۀ (۱٦) مادۀ (٦۴) قانون اساسی افغانستان،قانون اجارۀ مالی را که بر اساس فیصلۀ شماره (۱۰۲)مؤرخ ۱۳۹۲/۹/٦ هیئت مختلط مجلسین شورای ملی به داخل (۵) فصل و (۲۹) ماده به تصویب رسیده است، توشیح می دارم.

**مادۀ دوم:**

این فرمان همراه با قانون و فیصلۀ هیئت مختلط مجلسین شورای ملی در جریدۀ رسمی نشر و از تاریخ نشر نافذ می گردد.

حامد کرزی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

دافغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوري

پرله پسې ګڼه : (۱۰۲)

دفيصلې نېټه : ۱۳۹۲/۹/٦

فيصله

دمالي اجارې قانون

د افغانستان داساسي قانون دسلمې مادې له درج شوي حکم سره سم، دملي شوري د دواړو جرګو له شپږو، شپږو غړوڅخه جوړ شوي ګډ هيئت دمالي اجارې قانون له يوشمېر تعديلونو، سره په (۵) فصلونو او (۲۹) مادوکې د۱۳۹۲کال د ليندۍ دمياشتې پر ٦ نېټې د چهار شنبې د ورځې په غونډه کې فيصله کړ.

د ګډ هيئت رئيس

عبدالباقي ملک زاده

د ګډ هيئت مرستيال

محمد اسماعيل منشي

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

شمارۀ مسلسل: (۱۰۲)

تاریخ فیصله : ۱۳۹۲/۹/٦

فیصله

قانون اجارۀ مالی

به تأسی از حکم مندرج مادۀ صدم قانون اساسی افغانستان، هیئت مختلط مجلسین شورای ملی به ترکیب شش، شش نفر از اعضای هر جرگه قانون اجارۀ مالی را با یک سلسله تعدیلات به داخل (۵) فصل و (۲۹) ماده در جلسۀ روز چهارشنبه مؤرخ ٦ قوس سال ۱۳۹۲ فیصله نمود.

رئیس هیئت مختلط

عبدالباقی ملک زاده

معاون هیئت مختلط

محمد اسماعیل منشی

## فهرست مندرجات

## قانون اجارهٔ مالی

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول : | مبنی | ۱ |
| مادهٔ دوم : | اهداف | ۱ |
| مادهٔ سوم : | اصطلاحات | ۲ |
| مادهٔ چهارم: | ساحهٔ تطبیق | ۵ |
| مادهٔ پنجم : | محتوای قرارداد اجارهٔ مالی | ٦ |
| مادهٔ ششم : | رعایت سایر قوانین | ۷ |
| مادهٔ هفتم : | حقوق تملک برمال | ۷ |


## فصل دوم

## آثار قرارداد اجارهٔ مالی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ هشتم : | قابلیت تطبیق | ۹ |
| مادهٔ نهم : | افلاس وتسویهٔ اجاره گیرنده و اجاره دهنده | ۱۱ |
| مادهٔ دهم : | اجاره گیرنده منحیث ذینفع قرارداد تدارکاتی | ۱۲ |
| مادهٔ یازدهم : | اولویت در حق تصرف | ۱۵ |
| مادهٔ دوازدهم : | محدوده مسئولیت اجاره دهنده | ۱٦ |

## فصل سوم

## ایفای وجایب


مادۀ سیزدهم : الزامی بودن وجایب............................۱٦

مادۀ چهاردهم : خطرات احتمالی خسارۀ اموال..................۱۸

مادۀ پانزدهم : صدمۀ واردشده بر مال تحت اجارۀ مالی ........۱۹

مادۀ شانزدهم : قبولی..............................................۲۰

مادۀ هفدهم : جبران خساره (جبران های دیگر)..................۲۱

مادۀ هجدهم : واگذاری حقوق و وجایب..........................۲۲

مادۀ نزدهم : تضمین حیازت.......................................۲۳

مادۀ بیستم : تضمین قابل قبول بودن مال تحت اجارۀ مالی و مناسب بودن آن جهت تأمین هدف................۲۵

مادۀ بیست ویکم: وجایب اجاره گیرنده مبنی بر نگهداشت و بازگرداندن مال تحت اجارۀ مالی..................۲٦


## فصل چهارم

## نکول


مادۀ بیست ودوم :موارد نکول............................. ۲۷

مادۀ بیست وسوم : تعیین مبلغ قابل جبران..................۲۸


## فصل پنجم

## احکام نهائی


مادۀ بیست وچهارم : فسخ.......................................۲۹

مادۀ بیست وپنجم : حیازت و رسیدگی.........................۳۱

مادهٔ بیست وششم : رجعت به ماقبل............................۳۱
مادهٔ بیست وهفتم : وضع مقررات و طرزالعمل ها...........۳۲
مادهٔ بیست وهشتم : ارجحیت...............................۳۲
مادهٔ بیست ونهم : تاریخ انفاذ...............................۳۲

# دمالي اجارې قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده :**

دغه قانون دافغانستان داساسي قانون د لسمې اوديارلسمې مادې دحکم په رڼاکې، دمالي اجارې دچارو دتنظيم په منظور، وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه يمه ماده :**

د دې قانون موخې عبارت دي له:

۱- دمالي اجارې له لارې دکوچنيو او منځنيو پانګونو وده.

۲- دبانکي پورونو دبديل دورکړې له لارې ، دپانګونې په ډګرکې دسيالۍ دزمينې رامنځته کول او وده.

۳- دمالي اجارې له لارې دبوختيدو دزمينې برابرول.

# قانون اجارۀ مالی

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول :**

این قانون درروشنی احکام مواد دهم و سیزدهم قانون اساسی افغانستان به منظورتنظیم امور اجارۀ مالی وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم :**

اهداف این قانون عبارت اند از :

۱-رشد سرمایه گذاریهای کوچک و متوسط از طریق اجارۀ مالی.

۲- ایجاد و رشد زمینۀ رقابت در عرصۀ سرمایه گذاری از طریق اعطای بدیل قرضه های بانکی.

۳- فراهم نمودن زمینۀ اشتغال از طریق اجارۀ مالی.

## اصطلاحگانې

**درېیمه ماده :**

پدې قانون کې لاندې اصطلاحگانې ، دغه مفاهیم افاده کوي :

۱- مالي اجاره : هغه عقد (تـړون) دی چې اجاره اخیستونکی تر مـالي اجارې لاندې ما ل مشخصـوي او تدارک کوونکی دمخه غوره کوي او اجاره ورکوونکی مال ترلاسه کـوي او اجاره اخیستونکی دهغهٔ دحیازت او گټې اخیستنې حق دمالي اجـارې دقرارداد پر بنسټ لاسته راوړي او د مال تدارک کوونکی له حقیقت څخه خبر دی.

۲- سوداگریزمالونه : په غیر مصرفي اجناسو کې دکارخانو ماشین آلات او تجهیزات،غیرمنقولې شتمنی،پانگه ییز جنسونه اوخاص تولید شوي مالونـه شامل دي چې داجاره اخیســتونکي دمعمول کاریا سوداگرۍ په بهیرکې ترگټې اخیستنې لاندې نیول کېږي.

## اصطلاحات

**مادۀ سوم :**

اصطلاحات آتی در این قانون مفاهیم ذیل را افاده می نماید :

۱- اجارۀ مالی : عقدی است کــه اجاره گیرنده ، مال تحـت اجـارۀ مالی را مشخص وتـدارک کننـده را قبلاً انتخـاب نمـوده واجـاره دهنده ما ل را تصـاحب واجـاره گیرنده حـق حیـازت و اسـتفادۀ آنرا بـه اسـاس قـرارداد اجـارۀ مالی بدسـت آورده و تـدارک کننـدۀ مـا ل از حقیقـت آگـاه می باشد.

۲- اموال تجارتی : امـوال غیـر مصـرفی شـامل ماشـین آلات و تجهیزات کارخانه، دارائی های غیر منقول، اجناس سرمایوی وامـوا ل خاص تولید شده است که در جریان کار یا تجارت معمول اجاره گیرنده مورد استفاده قرار می گیرد. ایـن

پـــدغې اصـــطلاح کـــې پیســـې او دپانګونې تضمینونه نه شاملیږي.

۳- دمالي اجارې قرارداد : لیکلـــی عقد دی چې پربنسټ یې ددې قانون دحکمونو مطابق، بل شخص تـــه د حق الاجارې دورکړې په بدل کـــې دټاکلې مودې لپاره د تـــر اجـــارې لاندې مال د حیازت او ګټې اخیستنې حق پـــرېښودل کـــېږي او د مـــال دپېرودنې شونتیا هم کېدی شي دمالي اجارې په قرارداد کې تسجیل شي.

۴- اجاره ورکوونکی: هغه شخص دی چې دمالي اجارې دقرارداد پر بنسټ، ترمالي اجارې لاندې مال د حیازت او ګټې اخیستنې حق ، اجاره اخیستونکي ته ورکوي. فرعي اجاره ورکوونکی هم پدې حکم کې شامل دی، خودا چې په دې قانون کې بل ډول تصریح شوی وي.

۵- اجاره اخیستونکی : هغه شخص دی چې دمالي اجـــارې دقـــرارداد پربنسټ، ترمالي اجارې لاندې مال د حیازت اوګټې اخیستنې حق له اجاره

اصطلاح شامل پـــول و تضـــمینات سرمایه گذاری نمی شود.

۳- قرار داد اجارۀ مـــالی : عقـــد کتبی است که به اساس آن شخص حق حیازت و استفاده از مال تحت اجارۀ مالی را برای مدت معـــین در بدل پرداخت حق الاجارۀ معین بـــه شخص دیگر مطابق احکام این قانون واگذار وامکان خرید مال نیز مـــی تواند در قرارداد اجارۀ مالی تسجیل گردد.

۴- اجاره دهنده: شخصی است که براساس قرارداد اجارۀ مالی، حـــق حیازت و استفاده از مـــا ل تحـــت اجارۀ مالی را به اجاره گیرنده اعطأ می نماید. اجـــاره دهنـــدۀ فرعـــی نیزشامل این حکم می باشد، مگـــر اینکه در این قانون طـــور دیگـــری تصریح شده باشد.

۵- اجاره گیرنده : شخصی اســـت که بر اساس قرارداد اجارۀ مـــالی، حق حیازت و استفاده ما ل تحـــت اجارۀ مالی را از اجاره دهنده بدست

ورکوونکي ځخه لاسته راوړي. فرعي اجاره اخيستونکی هم پدې حکم کې شامل دی،خوداچې په دې قانون کې بل ډول تصريح شوی وي.

۶–تدارک کوونکی:هغه شخص دی چې اجاره ورکوونکی له هغهٔ ځخه مال يايې دحيازت اوګټې اخيستنې حق، دتدارکاتي قرارداد پربنسټ، د مالي اجارې په منظور لاسته راوړي.

۷– حق الاجاره : هغه مبلغ دی چې دمالي اجارې دقرارداد مطابق،داجاره اخيستونکي لخوا اجاره ورکوونکي ته ورکول کېږي.

۸– دفعاليت ځای : هغه ځـــای دی چې شخص(اجاره ورکوونکی، اجاره اخيستونکی، تدارک کوونکی، فرعي اجاره ورکوونکی او فرعـــي اجـــاره اخيستونکی)په خپل کار او ګټو پورې اړوندې چارې په منظمه توګه هلتـــه اجراءاو اداره کوي. ددغه شان ځای دنه شتون په صورت کې دشـــخص راجستر شوی دفتر يايې داوســـېدنې ځای، د فعاليت دځای په توګه ګڼل

می آورد. اجاره گيرندهٔ فرعی نيـــز شامل اين حکم می باشد، مگر اينکه در اين قانون طور ديگری تصـــريح شده باشد.

۶– تدارک کننده: شخصی اســـت کـــه اجاره دهـــنده ازوی مال يـــا حق حيازت و استفاده از آن را بـــه منظور اجارهٔ مالی بر اساس قرارداد تدارکاتی به دست می آورد.

۷– حق الاجاره: مبلغی است کـــه مطابق قرارداد اجارهٔ مالی ، از طرف اجاره گيرنده به اجاره دهنده تأديه می شود.

۸– محل فعاليت: محلی است کـــه شخص (اجـــاره دهنـــده، اجـــاره گيرنده، تدارک کننده، اجاره دهنده فرعی و اجاره گيرندهٔ فرعی) امـــور مربوط به کار و منـــافع خـــويش را طـــور مـــنظم درآنجـــا اجـــراء و اداره می نمايد. درصـــورت عـــدم موجوديت چنـــين محـــل، دفتـــر راجسترشدهٔ شخص يا محل اقامت وی به حيث محل فعاليت، محسوب

کېږي.

۹–شخص: حقيقي يا حکمي شخص دی.

۱۰– تدارکاتي قرارداد: هغه عقد دی چې پربنسټ يې اجاره ورکوونکي ترمالي اجارې لاندې مال يا دهغهٔ دحيازت او ګټې اخيستنې حق دمالي اجارې په منظور له تدارک کوونکي څخه لاسته راوړي.

۱۱– نکول : د مالي اجارې په عقد ليک کې، د تصريح شويو وجيبونه تر سره کول، نکول ګڼل کېږي.

د تطبيق ساحه

څلورمه ماده :

(۱) ددې قانون حکمونه له لاندې حالاتو څخه ديوهٔ له په پام کې نيولو سره تطبيقېږي :

۱– تر مالي اجارې لاندې ما ل په افغانستان کې دننه واقع وي.

۲– داجاره اخيستونکي دفعاليت ځای په افغانستان کې موقعيت ولري.

۳– د افغانستان د نافذه قوانينو په پام

می شود.

۹–شخص: شخص حقيقی يا حکمی می باشد.

۱۰– قرار داد تدارکاتی: عقدی است که به اساس آن اجاره دهنده مال تحت اجارهٔ مالی يا حق حيازت و استفاده آن را به منظور اجارهٔ مالی از تدارک کننده بدست می آورد.

۱۱– نکول : عدم ايفای وجايب تصريح شده در قرارداد اجارهٔ مالی می باشد.

ساحهٔ تطبيق

مادهٔ چهارم :

(۱) احکام اين قانون با درنظر داشت يکی از حالات ذيل قابل تطبيق می باشد:

۱– مال تحت اجارهٔ مالی در داخل افغانستان قرار داشته باشد.

۲– محل فعاليت اجاره گيرنده در افغانستان موقعيت داشته باشد.

۳– حکم مبنی بر رعايت و تطبيق

کې د نيولو او تطبيق په اړه حکم، د مالي اجارې په قرارداد کـې تصـريح شوی وي.

(۲) دغه قانون داجاره ورکوونکي او اجاره اخيستونکي ترمنځ پر اړيکـو باندې دتطبيق وړنـدی، خـوداچې دغه اړيکي دمالي اجارې دقـرارداد پربنسټ تنظيم شوي وي.

## د اجارې دقرارداد محتوي

پنځمه ماده :

(۱) دواړه خواوي کولاې شـې، د لسمي مادي په (۵) فقره، د شـلمي مادي په (۲) فقره او د درويشـتمې مادې په (۳) فقره کې د درج شويو حکمونو په استثناء، دمالي اجارې د قرارداد محتوي له خپلـې غوښـتنې سره سم، مشخص کړي.

(۲) که چيرې دمالي اجارې په قرار دادکې، داسې يوحکم درج شـوی وي چې د دې مادې له (۱) فقـرې سره په تناقض کې وي، درج شـوی حکم باطل وي. په دې صورت کې،

قـــوانين نافـــذه افغانســـتان در قرارداد اجارۀ مالی تصـريح شـده باشد.

(۲) اين قانون بر روابط فی ما بـين اجاره دهنده واجاره گيرنده قابـل تطبيق نمی باشد، مـگر اينکه چنين روابط به اساس قرارداد اجارۀ مالی، تنظيم گرديده باشد.

## محتوای قرار داد اجارۀ مالی

مادۀ پنجم :

(۱) به اسـتثنای احکـام منـدرج در فقرۀ (۵) مـادۀ دهـم، فقـرۀ (۲) مادۀ بيستم و فقرۀ (۳) مـادۀ بيست و سوم طرفين مـی تواننـد، محتوای قرارداد اجـارۀ مـالی را حسـب خـواهش مشـخص نمايند.

(۲) هرگـاه درقـرار داد اجـارۀ مالی حکمـی درج شـده باشـد که بـا فقـرۀ (۱) ايـن مـاده در تناقض باشد، حکم منـدرج باطـل می باشد. در ايـن صـورت بـه

دهغه فسخ اوتغييرپه کچه چې صورت يې موندلی دی،داجارې پرقرارداد باندې دقانون حکمونه اعمال کېږي اوپه قراردادکې پاتي درج شوي شرايط نافذ پاتې کېږي.

## دنورو قوانينو په پام کې نيول

شپږمه ماده:

اړخونه مکلف دي،دمالي اجارې د قرارداددعقد او دهغه دتطبيق پروخت ددې قانون او نورو نافذه قوانينو حکمونه په پام کې ونيسي.

## پرمال باندې دتملک حقوق

اوومه ماده :

(۱) هغه مال چې داجاره اخيستونکي دحيازت او ګټې اخيستنې لپاره پرېښنودل کېږي ، داجارې په موده کې، داجاره اخيستونکي ملکيت ګڼل کېږي.

(۲) که چېرې دمالي اجارې په قرارداد کې ، ترمالي اجارې لاندې مال دمالکيت دسندونو دلېږد شونتيا، داجارې دمودې له پايته رسېدو

اندازۀ فسخ يا تغييری که صورت گرفته است، احکام قانون بر قرار داد اجاره اعما ل می شود و مابقی شرايط مندرج قرارداد نافذ باقی می ماند.

## رعايت ساير قوانين

مادۀ ششم :

طرفين مکلف اند، حين عقد قرارداد اجارۀ مالی و تطبيق آن احکام اين قانون و ساير قوانين نافذه را رعايت نمايند.

## حقوق تملک بر مال

مادۀ هفتم :

(۱) مالی که جهت حيازت و استفادۀ اجاره گيرنده واگذار می گردد، در مدت اجاره، ملکيت اجاره دهنده محسوب می شود .

(۲) هرگاه درقرارداد اجارۀ مالی، امکان انتقا ل اسناد مالکيت ما ل تحت اجارۀ مالی، قبل از ختم ميعاد اجاره و بعد از

دمخه، داجاره اخیستونکي په واسطه دټولو الزاماتو له اداء کولو وروسته تسجیل وي، پدې صورت کې اجاره ورکوونکی کولی شي، ددې مادې په (۱)فقره کې ددرج شوي حکم له په پام کې نیولو پرته، ترمالي اجارې لاندې مال، دمالکیت دسندونو دقرار داد مطابق اجاره اخیستونکي ته ولېږدوي.

(۳) که چېرې اجاره اخیستونکی ترمالي اجارې لاندې ما ل ، اجاره ورکوونکي ته ور وګرځوي ، په هکله يې په لاندې توګه اجراآت کېږي:

۱- هغه ملحقات یا اصلاحات چې د اجاره اخیستونکي لخوا په تر مالي اجارې لاندې مال کې يې صورت موندلی او هغهٔ ته لـه زيان پرته د تفکیک وړوي، داجاره اخیستونکي ملکیت ګڼل کېږي.

۲- هغه ملحقات یا اصلاحات چې داجاره اخیستونکي په لګښت داجاره ورکوونکي په لیکلې موافقه په ترمالي

ادای تمام الزامات توسط اجاره گیرنده تسجیل شده باشد ، در این صورت اجاره دهنده می تواند، بدون نظر داشت حکم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده ، طبق قرارداد اسناد مالکیت، ما ل تحت اجارهٔ مالی را به اجاره گیرنده انتقا ل دهد.

(۳) هرگاه اجاره گیرنده ما ل تحت اجارهٔ مالی را به اجاره دهنده باز گرداند ، در مورد طور ذیل اجراآت صورت می گیرد:

۱- ملحقات یا اصلاحاتی که توسط اجاره گیرنده در ما ل تحت اجارهٔ مالی صورت گرفته و بدون صدمه به آن قابل تفکیک باشد، ملکیت اجاره گیرنده محسوب می شود.

۲-ملحقات یا اصلاحاتی که به مصرف اجاره گیرنده به توافق کتبی اجاره دهنده در ما ل

اجارې لاندې مال کې یې صورت موندلی او هغهٔ ته له زیان پرته د تفکیک وړنه وي، اجاره اخیستونکی دنوموړو لګښتونو دجبران مستحق دی.

۳- په هغه صورت کې چې اجاره اخیستونکی داجاره ورکوونکي له لیکلي موافقې پرته، په تراجارې لاندې مال کې دتفکیک نه وړ اصلاحات وارد کړي وي، دنوموړو لګښتونو دجبران دترلاسه کولو نه مستحقیږي، خوداچې اجاره ورکوونکی په خپله خوښه لګښتونه ورکړي.

## دوه یم فصل

## دمالي اجارې دقرارداد آثار

<u>دتطبیق وړتیا</u>

**اتمه ماده :**

(۱) دمالي اجارې قرارداد دلاندې آثارو لرونکی وي :

۱- دمالي اجارې دقرارداد اجراء او تطبیق دهغه دمندرجاتو مطابق.

تحت اجارهٔ مالی صورت گرفته و بدون صدمه به آن قابل تفکیک نه باشد، اجاره گیرنده مستحق جبران مصارف مذکور می باشد.

۳- در صورتی که اجاره گیرنده بدون توافق کتبی اجاره دهنده، ملحقات یا اصلاحات غیر قابل تفکیک را در ما ل تحت اجارهٔ مالی وارد نموده باشد، مستحق دریافت جبران مصارف متذکره نه می گردد، مگر اینکه اجاره دهنده به رضایت خود مصارف را بپردازد.

## فصل دوم

## آثار قرارداد اجارهٔ مالی

<u>قابلیت تطبیق</u>

**مادهٔ هشتم :**

(۱) قرار داد اجارهٔ مالی، دارای آثار ذیل می باشد:

۱- اجراء و تطبیق قرار داد اجارهٔ مالی مطابق به مندرجات آن.

۲- دتسويې او افلاس دچارو دتنظيم دمسئول شخص په شمول، د مال د پېرېدونکي او دمالي اجارې داړخونو ددائينوپرعليه دمالي اجارې دقرارداد داړخونو دحقوقو او جبرانونو لازم الاجراء والی.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي آثار، په هغه صورت کې دتطبيق وړدي چې پدې قانون کې بل ډول تصريح شوي نه وي.

(۳) اجاره اخيستونکی کولی شي د اجاره ورکوونکي په ليکلي موافقه د مالي اجارې دقرارداد دشرايطومطابق، مال ثالث شخص ته دټاکلې مودې لپاره ، دحق الاجارې (دفرعي اجارې په توګه) په بدل کې په اجاره ورکړي.

## داجاره اخيستونکي او اجاره ورکوونکي افلاس او تسويه

نهمه ماده :

(۱) که چېرې اجاره ورکوونکی دافلاس اعلام وکړي يا يې حسابونه

۲- لازم الاجراء بودن حقوق وجبران های طرفين قرار داد اجارۀ مالی، عليه خريدار مال و دائنين طرفين اجارۀ مالی به شمول شخص مسئول تنظيم امور تسويه و افلاس.

(۲) آثار مندرج فقره (۱) اين ماده در صورتی قابل تطبيق است که در اين قانون طور ديگری تصريح نه شده باشد.

(۳) اجاره گيرنده می تواند با موافقۀ کتبی اجاره دهنده، مطابق شرايط قرار داد اجارۀ مالی، مال را به شخص ثالث برای مدت معين و در بدل حق الاجاره (منحيث اجارۀ فرعی) ، به اجاره بدهد.

## افلاس وتسويۀ اجاره گيرنده و اجاره دهنده

مادۀ نهم :

(۱) هرگاه اجاره دهنده اعلام افلاس نموده يا حسابات وی به

له تسويې سره مخامخ شي ، اجــاره اخيستونكى كولى شي دمالي اجارې دقرارداد د مندرجاتو مطابق ، خپــل فعاليت ته دوام وركړي.

(۲) هغه شخص چــې پــه بــانكي معاملوكې دمنقولو مــالونو درهــن دقانون دحكمونو مطــابق داجــاره وركوونكي پر عليه د رهنــي حــق لرونكى يــا داجــاره وركــوونكي دتسويې يا افلاس له امله ، تر دمــالي اجارې لاندې مال مالــک ګرځــي، دمالي اجارې دقــرارداد پربنســټ، داصلي اجاره وركوونكي دحقوقــو دانفاذ مستحق پېژندل كېږي. نــوى مالک نشي كولى ترمــالي اجــارې لاندې مال په خپــل حيــازت كــې واخلي يا دمالي اجارې قرارداد فسخ كړي، خوداچې اجاره اخيستونكي د مالي اجارې په قــرارداد كــې درج شوې ژمنې سرته رسولې نه وي.

(۳) كه چېرې داجاره اخيســتونكي دتسويې يا افلاس په اړه د محكمــې حكم،صادر شوى وي،ترمالي اجارې

تسويه مواجه گردد، اجاره گيرنـــده می تواند، مطابق مندرجات قرار داد اجارۀ مالی به فعاليت خويش ادامــه دهد.

(۲) شخصی كــه مطــابق احكــام قانون رهن اموال منقول در معاملات بانكی، حق رهنی عليه اجاره دهنده را حايز ويا بالاثرتسويه ويا افــلاس اجاره دهنده ، مالک مــا ل تحــت اجارۀ مالی می گردد، براساس قرار داد اجارۀ مالی، مستحق انفاذ حقوق اجاره دهندۀ اصلی شناخته می شود. مالک جديد نمی تواند ما ل تحــت اجارۀ مالی را در حيــازت خــود گرفته يا قرارداد اجارۀ مالی را فسخ نمايد، مگر اينكه اجــاره گيرنــده تعهـــدات منـــدرج قـــرارداد اجارۀمـــالی را ايفـــا ننمـــوده باشد.

(۳) هرگـــاه حكـــم محكمـــه مبنی بر تسويه يـــا افــلاس اجــاره گيرنده، صادر شده باشــد، مــا ل تحت اجارۀ مالی جــزء ازامــوا ل

لاندې مال ، دتر تسويې لاندې مال يا دمفلس شخص دشتمنيو جزء کېدی نشي اوددائنينوترګټې اخيستنې لاندې اقلامو په لست کې، نه شاملېږي.

**اجاره اخيستونکی دتدارکاتي قرارداد د ذينفع په توګه**

**لسمه ماده :**

(۱) تدارک کوونکی د تدارکاتي قرارداد پربنسټ داجاره اخيستونکي په وړاندې هم مسئول دی،لکه داسې چې اجاره اخيستونکی تدارکاتي قرارداد اړخ وي او ترمالي اجارې لاندې مال په مستقيمه توګه اجاره اخيستونکي ته، تدارک شوی وي. تدارک کوونکی ترمالي اجارې لاندې مال ته د اووښتي زيان په رابطه، دمالي اجارې دقرارداد له اړخونوڅخه يوازې ديوهٔ په وړاندې ملزم دی.

(۲) د اجاره اخيستونکي په وړاندې دتدارک کوونکي مسئوليت د تدارکاتي قرارداد د اړخونود حقوقو

تحت تسويه يا دارائی های شخص مفلس قرار نگرفته و در لست اقلام تحت استفادهٔ داينين شامل نه می شود.

**اجاره گيرنده منحيث ذينفع قرار داد تدارکاتی**

**مادهٔ دهم :**

(۱) تدارک کننده به اساس قرارداد تدارکاتی دربرابر اجاره گيرنده نيز مسئول می باشد، مانند اينکه اجاره گيرنده طرف قرارداد تدارکاتی بوده و مال تحت اجارهٔ مالی طورمستقيم به اجاره گيرنده، تدارک گرديده باشد. تدارک کننده در رابطه به خسارات وارده به مال تحت اجارهٔ مالی صرف درمقابل يکی از طرفين قرار داد اجارهٔ مالی (اجاره دهنده يا اجاره گيرنده) ملزم می باشد.

(۲) مسئوليت تدارک کننده در مقابل اجاره گيرنده، سبب تعديل يا تغييرحقوق و وجايب طرفين قرارداد

او وجايبو دځه هم له عين قرارداد يا پرته له هغۀ څخه را پيدا شــوی وي دتعديل يا بدلون سبب نه کېــږي او دتدارکاتي قرارداد پربنسټ هېڅ ډول مکلفيــــت يامســـئوليت پراجــــاره اخيستونکي باندې نه تحميلوي.

(۳) که چېرې اجاره اخيســـتونکی ونکړی شي ، تدارک کوونکی دهغو ترمنځ دقرارداد د نه موجوديت پـــه دليل دخپلـــو ژمنوترســـره کولوتـــه اړباسي، پدې صورت کـــې اجــــاره ورکوونکي مکلف دي، چې تدارک کوونکي پردې ملزم کړي،څود اجاره اخيستونکي په نسبت خپلې ژمني تر سره کړي.داجاره ورکوونکي له خوا دداسي يو اقدام دنه ترسره کيدوپـــه صورت کي،داسې ګڼل کېږي چـــې اجاره ورکوونکي دتدارک کـــوونکي وجايب هم پرغاړه اخيستي دي.

(۴) که چېرې په تدارکاتي قــــرارداد کې درج شوي شرطونه ، چې دمخه داجــــاره اخيســــتونکي دتأييــــد وړګرځېدلي دي ، تعديل شي، ددې

تدارکاتی، چه ازعين قـــرارداد يـــا غيراز آن ناشی شـــده باشـــد، نـــه گرديده و هيچ نوع مکلفيـــت يـــا مسئوليت را بـــر اســـاس قـــرارداد تدارکاتی به اجاره گيرنده تحميل نه می نمايد.

(۳) هر گاه اجاره گيرنده نه تواند، تـــدارک کننـــده را بـــدليل عـــدم موجوديت قرار داد فی مابين آنهـــا به ايفای وجـــايبش وادار نمايـــد ، در اين صـــورت اجـــاره دهنـــده مکلف است تا تـــدارک کننـــده را ملزم نمايد که تعهدات خـــويش را نسبت به اجاره گيرنده ايفا نمايـــد. در صورت عدم انجام چنين اقدام از سوی اجاره دهنده چنين پنداشته می شود که اجـــاره دهنـــده وجايـــب تدارک کننده را نيز به عهده گرفته است.

(۴) هرگاه شرايط منـــدرج قـــرار داد تـــدارکاتی کـــه قـــبلاً مـــورد تائيد اجاره گيرنده قرار گرفته است، تعديل گردد، حقوق اجاره گيرنـــده

مادې په (۱ ، ۲ او۳) فقرو کې د درج شوي اجاره اخيستونکي حقوق نه اغېزمنوي، خوداچې اجاره اخيستونکی له دغو تعديلونو سره موافقه کړې وي، پرته لدې داسې ګڼل کېږي چې اجاره ورکوونکي دتعديل شوو شرايطو په اندازه دتدارک کوونکي وجايب، په غاړه اخيستي دي.

(۵) دمالي اجارې دقرارداد اړخونه نشي کولی، ددې مادې په (۱ ، ۲ ، ۳ او۴) فقرو کې د درج شوو حکمونو مغاير مطالب ، دمالي اجارې په قرار داد کې درج کړي.

(٦) اجاره اخيستونکی نشي کولی د اجاره ورکوونکي له خوښې پرته په تدارکاتي قراردادکې درج شوي موارد، تعديل يا فسخ کړي.

## دتصرف په حق کې اولويت

**يوو لسمه ماده :**

(۱) اجاره اخيستونکی داين اوپه غير منقوله شتمنۍ يا شخصي شتمنۍ کې

مندرج فقره های (۱، ۲ و ۳) این ماده را متأثر نمی سازد، مگر اینکه اجاره گیرنده با این تعدیلات موافقت نموده باشد، درغیر آن چنین پنداشته می شود که اجاره دهنده وجایب تدارک کننده را به اندازۀ شرایط تعدیل شده، به عهده گرفته است.

(۵) طرفین قرارداد اجارۀ مالی نمی توانند، مطالب مغایر احکام مندرج فقره های (۱، ۲، ۳ و۴) این ماده را در قرارداد اجارۀ مالی درج نمایند.

(٦) اجاره گیرنده نمی تواند موارد مندرج قرارداد تدارکاتی را بدون رضائیت اجاره دهنده تعدیل یا فسخ نماید.

## اولویت در حق تصرف

**مادۀ یازدهم :**

(۱) داین اجاره گیرنده و شخص ذینفع در دارائی غیرمنقول یا دارائی

ذینفع شخص چې ترمـــالي اجـــارې لاندې مال له هغو سره منضم شـــوی وي،دمالي اجارې دقرارداد د اړخونو دحقوقو اوجبرانونو تابع دي او نشي کولی دمالي اجارې له قرارداد څخه په راپیدا شووګټو کې ونډه وال شي.

(۲)اجاره ورکوونکی داین ، د مالي اجارې دقرارداد د اړخونو دحقوقو او جبرانونو تابع دی، خوداچې په نورو قوانینو کې بل ډول تصریح شـــوي وي.

## داجاره ورکوونکي دمســـئولیت محدوده

دوو لسمه ماده :

اجاره ورکوونکی دخپل مســئولیت اوموقف په حدودو کې دهغې مړینې، جسمي صدمې یا مالي زیان پـــه اړه چې دتر مالي اجارې لاندې مال یا له هغۀ څخه دګټې اخیســـتنې لــــه ډول څخه راپیدا شـــوي وي ، داجـــاره اخیستونکي یا درېـــیم شـــخص پـــه وړاندې ، مسئول نه ګڼل کېږي.

شخصی که مال تحت اجارۀ مـــالی به آن منضم گردیده باشـــد، تـــابع حقوق و جبران های طرفین قرارداد اجارۀ مالی می باشند و نمی تواننـــد در منافع ناشی از قرار داد اجـــارۀ مالی سهیم گردند.

(۲) داین اجاره دهنده ، تابع حقوق و جبران های طرفین قرارداد اجارۀ مالی می باشد، مگراینکه درســـایر قوانین طور دیگری تصـــریح شـــده باشد.

## محـــدودۀ مســـئولیت اجـــاره دهنده

مادۀ دوازدهم :

اجاره دهنده در حدود مســـئولیت وموقف خـــود در مقابـــل اجـــاره گیرنـــده یـــا شـــخص ثالـــث در رابطه به مـــرگ، صـــدمه جســـمی یا خســـارۀ مـــالی کـــه ناشـــی از مال تحت اجارۀ مـــالی یـــا نحـــوۀ استفاده آن باشد، مسئول پنداشـــته نمی شود.

## درېيم فصل

## دوجايبو سرته رسول

**دوجايبو الزامي والي**

**ديارلسمه ماده :**

(۱) اجاره اخيستونکی دمالي اجارې دقرارداد له عقد وروسته ،نشي کولی داجاره ورکوونکي په نسبت په قرارداد کې د درج شوو وجايبو له سرته رسولو څخه انکار وکړي،خودا چې په دې قانون کې بل ډول تصريح شوي وي.

(۲) له اړخونو څخه هريو مکلف دی خپل وجايب دمالي اجارې په قرار داد کې د درج شوو شرايطو مطابق ، ددې له په پام کې نيولو پرته چې بل اړخ هغه سرته رسوي يانه، سرته ورسوي. خو هغه اړخ چې نوموړي وجايب دهغهٔ په نسبت ادا کېږي، دوجايبو له سرته رسولو څخه سترګې پټې کړي يا بل ډول موافقه وکړي.

(۳) اجاره اخيستونکي په واسطه تر اجارې لاندې مال تر منلو او قبولولو

## فصل سوم

## ايفای وجايب

**الزامی بودن وجايب**

**مادهٔ سيزدهم :**

(۱) اجاره گيرنده بعداز عقد قرارداد اجارهٔ مالی نمی تواند از ايفای وجايب مندرج قرارداد نسبت به اجاره دهنده انکار ورزد ، مگر اينکه در اين قانون طور ديگری تصريح شده باشد.

(۲) هر يک از طرفين مکلف اند، وجايب خويش را طبق شرايط مندرج قرار داد اجارهٔ مالی ، بدون درنظرداشت اينکه،طرف ديگر آنرا ايفاء می نمايد يا خير، ايفاء نمايد. مگر طرفی که وجايب متذکره نسبت به وی ادا می گردد از ادای وجايب صرف نظر نموده و يا طورديگری موافقه نمايد.

(۳) پس از قبولی مال تحت اجاره توسط اجاره گيرنده، اتلاف

وروسته، تراجارې لاندې مال د تلف کيدو يا تر اجارې لاندې مال څخه د ګټې اخيستنې نا ممکنوالی، د مالي اجارې ترقرارداد لاندې دالزامونو تر سره کيدو د اجاره اخيستونکي د خلاصون لامل نه ګرځي. مګر دا چې د مالې اجارې په قرارداد کې، بل ډول موافقه شوي وي.

## دمالونو دزيان احتمالي خطرونه

څوارلسمه ماده :

(۱) اجاره اخيستونکی داحتمالي خطرونو دزيان دجبران مسئول دی ،که چېرې داحتمالي خطرونو دزيان دجبران مسئوليت دمالي اجارې په قرارداد کې تصريح شوی نه وي ، داحتمالي خطرونو دزيان دجبران مسئوليت ، دمالي اجارې دقرارداد دعقد له نېټې څخه، داجاره اخيستونکي پرغاړه دی.

(۲) که چېرې ترمالي اجارې لاندې مال اجاره اخيستونکي ته ورتسليم نشي يا قسماً يا له ټاکلې مودې

مال تحت اجاره يا عدم امکان استفاده از مال تحت اجاره ، سبب رهائی اجاره گيرنده از ايفای الزامات تحت قرارداد اجارۀ مالی نمی گردد، مگر اينکه در قرارداد اجارۀ مالی طور ديگری موافقه صورت گرفته باشد.

## خطرات احتمالی خسارۀ اموال

مادۀ چهاردهم :

(۱) اجاره گيرنده مسئول جبران خسارۀ خطرات احتمالی می باشد، هر گاه مسئوليت جبران خسارۀ خطرات احتمالی درقرارداد اجارۀ مالی تصريح نشده باشد، مسئوليت جبران خسارۀ خطرات احتمالی از تاريخ عقد قرارداد اجارۀ مالی به عهدۀ اجاره گيرنده می باشد.

(۲) هرگاه مال تحت اجارۀ مالی به اجاره گيرنده تسليم داده نشود يا قسماً يا بعد از موعد معين تسليم

وروسته ور تسليم شي، يا نومـوړی مال دمالي اجارې دقـرارداد مغـاير وي، اجاره اخيستونکی کولی شي ، ددې قانون د اوولسمي مادې دحکم مطابق دهغهٔ دزيان جبران وغواړي ، پدې صورت کې درسېدلي زيان پـه اړه احتمالي خطرونـه ، دتـدارک کوونکي پرغاړه دي.

(۳) د مالې اجـارې دواړه اړخونـه داسې توافق کولاې شي، چې اجاره اخيستونکی ملزم کړي،څـو نـور اضافي تضمينات د خپلو التزامونـود ترسره کولوپه موخه وړاندې کړي.

## تـرمالي اجارې لانـدې مال ته رسېدلی زيان

**پنځلسمه ماده:**

که چېرې تراجارې لاندې مال تـه ، اجاره اخيستونکي ته دهغهٔ له تسليمۍ دمخه (داجاره اخيستونکي او اجاره ورکوونکي له تقصير پرتـه) زيـان ورسېږي، اجاره اخيستونکی کـولی شي دڅېړنې غوښتنه وکـړي او لـه

داده شود يا ما ل مـذکور مغـاير قرارداد اجارهٔ مالی باشـد، اجـاره گيرنده می تواند، مطـابق حکـم مندرج مادهٔ هفدهم اين قانون جبران خسارهٔ آنرا مطالبه نمايد، در ايـن صورت خطرات احتمالی در رابطـه به خساره وارده به عهدهٔ تـدارک کننده می باشد.

(۳) طرفين اجارهٔ مالی می تواننـد طوری توافق نمايند که اجاره گيرنده را ملزم نمايد تا تضمينات اضـافی ديگر را جهـت تضـمين ايفـای التزامات خويش ارايه نمايد.

## صدمهٔ وارد شده بر مال تحت اجارهٔ مالی

**مادهٔ پانزدهم :**

هرگاه به مال تحت اجـارهٔ مـالی قبـل از تسـليمی آن بـه اجـاره گيرنده(بدون تقصير اجاره گيرنده و اجـاره دهنـده) صـدمه وارد گردد، اجاره گيرنده مـی توانـد، خواهان بررسـی شـده و يکـی از

لاندې دوو موردو څخه يــو غــوره کړي:

– مال درسېدلي زيان لــه متناســب ارزښت سره يوځای له بل هېڅ حــق پرته دتدارک کوونکي پرعليه ، لــه تدارک کوونکي څخه تسليم شي.

– ددې قانون دحکمونــو مطــابق، دزيان جبران وغواړي.

قبولي

شپاړسمه ماده :

(۱) ترمالي اجارې لاندې مال په هر يولاندې حالاتو کې قبول شوی ګڼل کېږي :

۱– په هغه صورت کې چې اجــاره اخيستونکی اجاره ورکــوونکي يــا تدارک کوونکي ته، دمالي اجارې له قرارداد سره د تر مالي اجارې لاندې مال له صحت او مطابقت څخــه ډاډ ورکړی وي.

۲– په هغه صورت کې چې اجاره اخيستونکي د څېړني لپاره د توافق شوي مودې تر پای ته رسيدو پوري،

دو مــــورد ذيـــل را انتخـــاب نمايد :

– مال را توأم با ارزش متناسب بـــا خساره وارده بدون هيچ حق ديگرى عليه تدارک کننده از تدارک کننده تسليم شود.

– جبران خساره را مطابق به احکام اين قانون مطالبه نمايد.

قبولی

مادۀ شانزدهم:

(۱) مال تحت اجارۀ مالی در هريک ازحالات ذيل قبول شده پنداشته می شود :

۱– در صــــورتی کـــه اجـــاره گيرنده به اجاره دهنده يا تـــدارک کننده ازصحت و مطابقـــت مـــا ل تحت اجـــارۀ مـــالی بـــا قـــرارداد اجـــارۀ مـــالی ، اطمينـــان داده باشد.

۲– درصورتی که اجـــاره گيرنـــده بعد از انقضای موعد توافــق شـــده جهت بررسی ما ل تحـــت اجـــارۀ

تر مالي اجارې لاندې مال رد کړی نه وي.

۳- په هغه صورت کې چې اجاره اخيستونکی ترمالي اجارې لاندې مال تر کټې اخيستنې لاندې نيولی وي.

(۲) که چېرې اجاره اخيستونکی ترمالي اجارې لاندې مال تسليم شي خونوموړی مال دتدارکاتي قرارداد مغاير وي ، تدارک کوونکی اجاره اخيستونکي ته د اووښتي زيان په جبران مکلف دی.

<u>دزيان جبران (نور جبرانونه)</u>

اوولسمه ماده :

(۱) تدارک کوونکی په لاندې حالاتو کې اجاره اخيستونکي ته د اووښتي زيان په جبران اودمالي اجارې د قرار داد مطابق دمال په تدارک مکلف دی :

۱- په هغه صورت کې چې ترمالي اجارې لاندې مال يې په بشپړ ډول اجاره اخيستونکي ته ورتسليم کړی نه وي.

مالی را رد ننموده باشد.

۳- درصورتی که اجاره گيرنده مال تحت اجارۀ مالی را مورد استفاده قرار داده باشد.

(۲) هرگاه اجاره گيرنده مال تحت اجارۀ مالی را تسليم شود ولی مال متذکره مغاير با قرارداد تدارکاتی باشد، تدارک کننده مکلف به جبران خسارۀ وارده به اجاره گيرنده می باشد .

<u>جبران خساره(جبرانهای ديگر)</u>

مادۀ هفدهم :

(۱) تدارک کننده درحالات ذيل مکلف به جبران خسارۀ وارده و تدارک مال مطابق با قرارداد اجارۀ مالی به اجاره گيرنده می باشد:

۱- در صورتی که ما ل تحت اجارۀ مالی راکلاً به اجاره گيرنده تسليم نه نموده باشد.

۲- په هغه صورت کې چې تر مالي اجارې لاندې مال يې قسماً اجاره اخيستونکي ته ورتسليم کړی نه وي.

۳- په هغه صورت کې چې ترمالي اجارې لاندې مال يې دمالي اجارې په قرارداد کې په درج شوي موده کې اجاره اخيستونکي ته ورتسليم کړی نه وي.

۴- په هغه صورت کې چې اجاره اخيستونکي ته ورتسليم شوی مال، د مالي اجارې دقرارداد مغاير وي.

(۲) که چېرې اجاره اخيستونکی تر مالي اجارې لاندې مال ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي حکم مطابق او دمال د ردولو په موخه د توافق شوي مودې له تېرېدو دمخه رد کړي، اجاره ورکوونکی يا تدارک کوونکی مکلف دی خپل قصور د موافقه شوې مودې په ترڅ کې جبران کړي.

۲- در صورتی که مال تحت اجارۀ مالی را قسماً به اجاره گیرنده تسلیم نه نموده باشد.

۳- در صورتی که مال تحت اجارۀ مالی را در موعد معین مندرج قرارداد اجارۀ مالی به اجاره گیرنده تسلیم نه نموده باشد.

۴- در صورتی که مال تسلیم داده شده به اجاره گیرنده مغایر قرار داد اجارۀ مالی باشد.

(۲) هرگاه اجاره گیرنده مال تحت اجارۀ مالی را طبق حکم مندرج فقرۀ (۱) این ماده و قبل از انقضای میعاد توافق شده جهت رد مال رد نماید، اجاره دهنده یا تدارک کننده، مکلف است قصور خویش را درظرف مدت توافق شده جبران نماید.

## د حقوقو او وجايبو پرېښودل

**اتلسمه ماده :**

(۱) اجاره ورکوونکی کولی شي داجاره اخيستونکي له موافقې پرته خپل حقوق بل شخص ته پرېږدي.

(۲) اجاره ورکوونکی کولی شي خپل وجايب، داجاره اخيستونکي د موافقې پرېښنسټ بل شخص ته پرېږدي.

(۳)اجاره اخيستونکی کولی شي خپل حقوق او وجايب داجاره ورکوونکي د ليکلې موافقې له تر لاسه کولو وروسته او دثالثو اشخاصو دحقوقو له په پام کې نيولو سره بل شخص ته، پرېږدي.

(۴) اجاره اخيستونکی، اجاره ورکوونکی او ثالث اشخاص کولی شي، د دې مادې په (۱، ۲ او۳) فقرو کې د درج شوو پرېښودنو په هکله ، دمخه موافقه وکړي.

(۵) تدارک کوونکی کولی شي ، هغه مال چې دتدارکاتي قرارداد

## واگذاری حقوق و وجايب

**مادۀ هجدهم :**

(۱) اجاره دهنده می تواند حقوق خويش را بدون توافق اجاره گيرنده به شخص ديگر واگذار نمايد.

(۲) اجاره دهنده می تواند وجايب خويش را بدون توافق اجاره گيرنده به شخص ديگر واگذار نمايد.

(۳) اجاره گيرنده می تواند حقوق و وجايب خويش را بعد از کسب موافقه کتبی اجاره دهنده و با درنظرداشت حقوق اشخاص ثالث به شخص ديگر واگذار نمايد.

(۴) اجاره گيرنده، اجاره دهنده و اشخاص ثالث می توانند، در مورد واگذاری های مندرج فقره های (۱ ، ۲ و۳) اين ماده قبلاً توافق نمايند.

(۵) تدارک کننده می تواند، مالی را که طبق قرارداد

مطابق يې پراجاره ورکوونکي باندې پلورلی دی ، دترمالي اجارې لاندې مال په توګه دمالي اجارې دقــرارداد مطابق په اجاره واخلي.

دحيازت تضمين

نولسمه ماده :

(۱) اجاره ورکوونکی مکلف دی ، تضــمين کــړي چــې داجــاره اخيستونکي حيازت دتقــدم دحــق دلرونکي ياهغه شخص چې دتقــدم دحق په اړه ادعا لري ، په واسطه نه ګډوډېږي ، پدې شرط چې دغه حق دمحکمې دحکــم پربنــا داجــاره ورکوونکي دغفلت يا غير عمــدي اقدام يا تقصير له امله هغه ته ورکړل شوی وي.

(۲) که چېرې اجاره اخيستونکی يا تدارک کوونکی، داجاره اخيستونکي دوړاندې شوو مشخصاتو مطــابق ، ترمالي اجارې لاندې ما ل داجــاره اخيستونکي په واک کې ورکــړي ، اجــاره ورکــوونکی يــا تــدارک

تدارکاتی بــه اجــاره دهنــده بــه فروش رسانيده اســت ، منحيــث مال تحت اجارۀ مالی، طبق قرارداد اجارۀ مالی به اجاره بگيرد.

تضمين حيازت

مادۀ نزدهم :

(۱) اجاره دهنده مکلف اســت ، تضمين نمايد که حيــازت اجــاره گيرنده توسط شخص دارای حــق تقدم يا شخصی که ادعای مبنی بــر حق تقــدم را دارد، مختــل نمــی گردد، مشروط بر اينکه ايــن حــق بنابرحکم محکمه بالاثر غفلت يــا اقدام غير عمدی يا تقصــير اجــاره دهنده از طرف محکمه به وی داده شده باشد.

(۲) هرگاه اجاره دهنده يا تــدارک کننده، طبــق مشخصــات ارايــه شدۀ اجاره گيرنده ، مــا ل تحــت اجارۀ مــالی را دراختيــار اجــاره گيرنده قراردهد، اجــاره دهنــده يا تــدارک کننــده درخصــوص

کوونکی،داجاره اخیستونکي په واسطه له ناسمه انتخاب څخه دراپیدا شوي زیان په برخه کې مسئول ندی.

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي حکم دنقض په صورت کې، اجاره اخیستونکی یوازی کولی شي،په خپل حیازت کې دهغه د مداخلې څخه په ترمالي اجارې لاندې مال باندې دزیان جبران له اجاره ورکوونکي څخه وغواړي.

## ترمالي اجارې لاندې مال د قبولوالي او دموخې د تأمین لپاره دهغه دمناسبوالي تضمین

شلمه ماده :

(۱) تدارک کوونکی مکلف دی ، د اجارې اخیستونکي فعالیت دسرته رسولو لپاره له لازمو اقل حد مشخصاتو سره د ترمالي اجارې لاندې مال مطابقت او دهغو متداولو موخو تأمینول چې نوموړی مال له ټاکل شوو مشخصاتو سره هغوته دلاسرسی په غرض،ترکټې اخیستنې

خسارات ناشی از انتخاب نادرست مال توسط اجاره گیرنده ، مسئول نمی باشد.

(۳) در صورت نقض حکم مندرج فقرۀ (۱) این ماده، اجاره گیرنده صرف می تواند، خسارۀ ناشی از مداخله درحیازت وی بر ما ل تحت اجارۀ مالی را از اجاره دهنده مطالبه نماید.

## تضمین قابل قبول بودن مال تحت اجارۀ مالی و مناسب بودن آن جهت تأمین هدف

مادۀ بیستم :

(۱) تدارک کننده مکلف است از مطابقت مال تحت اجارۀ مالی با حداقل مشخصات لازمه جهت انجام فعالیت اجاره گیرنده وتأمین اهداف متداولی که ما ل متذکره با مشخصات تعیین شده جهت دستیابی به آن، مورد استفاده قرار می گیرد، تضمین

لاندې نیول کېږي، تضمین کــړي. نوموړی تضمین یــوازې پرتــدارک کوونکي باندې دتطبیق وړدی.

(۲) دمالي اجارې دقرارداد اړخونــه نشي کولی پدې مــاده کــې د درج شوو حکمونو مغایر مطالب داجارې په قرارداد کې درج کړي.

**دتــرمالي اجارې لانــدې مال د ساتنې او بېرته ګرځولو پــه اړه داجاره اخیستونکي وجایب**

**یوویشتمه ماده :**

(۱) اجاره اخیستونکی مکلف دی ، دترمالي اجارې لاندې له مال څخه په سمه توګه او د عادي استهلاک له په پام کې نیولو سره څارنه او ساتنه وکړي او له دغه ډول مالونو څخه په ګټه اخیستنه کې په مناسبه توګه او مروجه لار له هغو څخه ګټه واخلي.

(۲) که چېرې دمالي اجــارې پــه قرارداد کې ، دترمالي اجارې لاندې مال دساتنې لپاره ،ځینې وجایب اټکل شوي وي یا دمال تولیــدوونکي یــا

نماید. تضــمین متــذکره صــرف بالای تدارک کننده قابــل تطبیــق می باشد.

(۲) طرفین قرارداد اجارۀ مالی نمی توانند مطالب مغایر با احکام مندرج این ماده را در قرارداد اجارۀ مالی درج نمایند.

**وجایب اجاره گیرنده مبنی بــر نگهداشت و بازگــرداندن مال تحت اجارۀ مالی**

**مادۀ بیست و یکم :**

(۱) اجاره گیرنده مکلف است، مال تحت اجارۀ مالی را به شکل درست و با درنظر داشت استهلاک عادی مراقبت و نگهداری نموده وبه طور مناسب وشیوۀ مروج در اســتفادۀ چنــین امــوا ل، از آن اســتفاده نماید.

(۲) هرگاه در قرارداد اجارۀ مالی ، جهت نگهداری مال تحت اجــارۀ مالی، وجایبی پیش بینی گردیده یــا تولید کننده یــا تــدارک کننــده

تدارک کوونکي له نوموړي مـــا ل څخه دګټې اخيستنې لپاره دتخنيکي لارښوونو په پام کې نيول ټاکلې وي، پدې صورت کې داجاره اخيستونکي په واسطه دتخنيکي لارښوونو دپه پام کې نيولو متابعت او يادو شوو وجايبو اداء کول، داسې ګڼل کيږي چــې ددې مادې په (۱) فقره کــې درج شوی حکم تعميل شوی دی.

(۳) که چيرې دمالي اجارې قرارداد فسخ ياېې وخـــت تيرشـــي، اجـــاره اخيســـتونکی مکلـــف دی،ترمـــالي اجارې لاندې مال په لومړي حالت، د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو شرايطو مطابق بيرتـــه اجـــاره ورکوونکي ته ورو ګرځوي، خـــودا چې د پيرودنې يا د وروســـتۍ دورې لپاره دمالي اجارې دمودې دتمديد په هکله يې موافقه کړې وي.

مال رعايت هـــدايات تخنيکـــی را جهت اســـتفاده از مـــا ل مـــذکور تعيين نموده باشد درايـــن صـــورت متابعت از رعايت هدايات تخنيکـــی و اداى وجايب متـــذکره توســـط اجاره گيرنـــده چنـــين پنداشـــته می شود که حکم منـــدرج فقـــرۀ (۱) ايـــن مـــاده تعميـــل شـــده است.

(۳) هرگاه قرارداد اجـــارۀ مـــالی فسخ يا موعد آن منقضـــی گـــردد، اجاره گيرنده مکلـــف اســـت،مال تحت اجارۀ مـــالی را بـــه حالـــت اول طبق شرايط مندرج فقـــرۀ (۱) اين ماده، به اجـــاره دهنـــده بـــاز گرداند، مگر اينکه در مورد خريـــد يا تمديد مدت اجارۀ مـــالی بـــرای دورۀ بعـــدی موافقـــه نمـــوده باشند.

## څلورم فصل

## نکول

### د نکول موارد

**دوه ويشتمه ماده :**

(۱) دمالي اجارې دقرارداد اړخونــه کولی شي، دهغو اعمالو په هکله چې نکول ګڼل کېږي يا پدې قانون کې د درج شوو حقوقواو وجايبوپه رامنځته کېدو تماميږي ، يوله بل سره موافقه وکړي، داړخونو دنه مــوافقې پــه صورت کې هغه وخت عمل نکــول ګڼل کېږی چې يوله اړخونو څخــه داجارې په قراردادکې درج شــوي وجايب يا پدې قانون کې درج شوي حکمونه سرته ورسوي.

(۲) زيانمن شوی اړخ مکلف دی ، دنکول خبرتيا يا دانفاذ خبرتيا يــا د مالي اجارې دقرارداد دفسخ خبرتيــا او دنکول دلرې کېدو لپاره مناســبه موده، نکول کوونکي اړخ ته وړاندې کړي. خو داچې په دې قانون کــې بل ډول تصريح شوي وي.

## فصل چهارم

## نکول

### موارد نکول

**مادۀ بيست و دوم :**

(۱) طرفين قرارداد اجارۀ مالی مــی توانند در مورد اعمالی که نکــول پنداشته می شوند يا منجر به ايجــاد حقوق و وجايــب منــدرج ايــن قانون می گردد ، با يــک ديگــر توافق نماينــد. درصــورت عــدم توافق طرفين، زمانی عمــل نکــول پنداشته می شــود کــه يکــی از طرفين، وجايب منــدرج قــرارداد اجارۀ مالی يــا احکــام منــدرج اين قانون را ايفاء نه نمايد.

(۲) طرف متضرر مکلــف اســت، اطلاعيۀ نکول يــا اطلاعيــۀ انفــاذ يا اطلاعيۀ فسخ قــرارداد اجــارۀ مالی و مدت مناسب جهــت رفــع نکول را به طرف نکول کننده ارايه نمايد، مگر اينکه در ايــن قــانون طورديگری تصريح شده باشد.

(۳) دنکول دنه لرې کېدو په صورت کې، نکول کوونکی مکلف دی، اووښتی زیان دمالي اجارې په قرارداد کې ددرج شوو شرایطو یاددې قانون دحکمونومطابق،جبران کړي.

## دجبران وړ مبلغ ټاکل

**درویشتمه ماده :**

(۱) که چېرې دمالي اجارې په قرار داد کې دزیان د جبران دورکړې وړ مبلغ اندازه مشخصه یا دهغې دټاکلو لپاره دمحاسبې خاصه تګلاره، اټکل شوې وي، نکول کوونکی مکلف دی نوموړی مبلغ زیانمن شوي ته ورکړي.

(۲) په هغه صورت کې چې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی مبلغ ، داووښتي زیان په مقایسه زیات وي، محکمه کولی شي، نوموړی مبلغ له اووښتي زیان سره متناسب ، راټیټ کړي.

(۳) د مالي اجارې دقرارداد اړخونه نشي کولی، پدې ماده کې د درج

(۳) در صورت عدم رفع نکول، نکول کننده مکلف است ، خسارۀ وارده را طبق شرایط مندرج قرار داد اجارۀ مالی یا احکام این قانون، جبران نماید.

## تعیین مبلغ قابل جبران

**مادۀ بیست وسوم :**

